AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین
۲۰۲۰/۰۲/۲۱

# ولی مو تر اوسه ژبه بډایه شوې نه ده؟

## دویمه برخه




ټولو ته جوته ده چې د څلويښت کلن جګړه ايز ناورين له امله د ټولو ناخوالو تر څنګ د هیواد مورنۍ ژبې او ماشومانو هم خورا زښت زيان وليد. د جنګ انسان وژونکو غير انسانی پديدو ټولنه او ولس دې ته اړ ويستل، تر څو خپلې اصلي سېمې پرېږدي، د هېواد دننه او باندينيو هيوادو ته کډوال شې .

د ماشومانو او تنکيو ځوانانو تعليمی او تربيوی سيستم د سخت ګواښ سره مخ شو او تر اوسه دوام لری .
د ماشومانو په تعليمی نورمال نصاب کې د حکمتونو او تنظيمې ډلو له لوری د حريصو ګاونډيو د شومو موخو او کلتوری يرغلونو په نتيجه کې ماشومانو ته هغه څه په تعليمی نصاب کې شامل شول چې بيخی د عملی کولو او زغملو وړ نه و. د مثال په توګه :

د قلم، کتابچې، کتاب پر ځای د ټوپک، توری، کلاشينکوف او مرميو نښې او علامې په کتابونو کې ورځای شوی چې د تنکيو ماشومانو روح او روان د دښمنيو، جنګ او وژنو لور ته وهڅوی، او د سولې، محبت ورورولی روحيه ورڅخه واخلې .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په پاکستان، ایران کې دافغان مهاجرینو په کېپونو کې د مورنیو ژبو نه سل په سلو کې ماشومان محروم او د اردو او فارسي ژبو د کارولو له لارې د مورنیو ژبو د زده کړو په ستونزو اخته شوول .

یو ژبپوه داسی هم وائی چې :

«مورنۍ ژبه د لومړنۍ زده کړې بنسټ کېښل کېږي او ماشوم باید په داسې چاپېرياِل کې ورزل شي، چې د پديدو د ښې پېژندنې لپاره لومړی خپله مورنۍ ژبه زده کړي.»

همدې اصل ته په کتو سره مورنۍ ژبه د نورو ژبو د زده کړې لپاره ښه زينه جوړوي او په پرله پسې توګه د نورو ژبو د تمرينولو لپاره خپله پوهه او تجربه تراشي .

له خپلې ژبې سره د بې غورۍ يوه اندېښنه دا ده، چې په کابل او تر ډېره په دري مېشتو سيمو کې پراته پښتانه د خپلو اولادونو او د مورنۍ ژبې په اړه ډېره بې باکي ښيي، همدا علت وي، چې په راتلونکې کې يې کوچنيان په خپله ژبه سم ليکل څه چې لا سم ويل هم نه شي کولی. دلته د يوې موضوع سپيناوی اړين دی، هغه دا چې زما دا خبره له نورو ژبو سره د تعصب جنبه نه لري، بلکې مطلب مې دا دی، چې که نورې ژبې زده کوي؛ نو خپله خو بايد حتمي زده کړي .

د ژبپوهنی يو پروفيسر وائي :
« هغه کوچنيان چې خپله مورنۍ ژبه يې ښه زده وي؛ په ښوونځي کې د نورو ژبو د زده کولو ښه استعداد لرلی شي.»

د پورتنی اصل په نظر کې نيولو سره افغان حکومت  مکلفيت لری، چې هر  هغه چا ته چې د ګران هيواد افغانستان په جغرافيا کې ژوند کوی بايد په خپله مورنۍ ژبه ورته د زدکړو زمينه برابره شي .

استعماری قدرتونو او حريصو ګاونډی د هيواد د نورو ژبو تر څنګ پښتو ژبه چې په افغانستان کې د يو لوی اکثريت ژبه ده، د تاريخ په اوږدو کې د نړی د زبرځواکو او د سيمی د ځان غوښتونکو استعماری تاقتونو له لوري له يوې خوا او د خپله پښتنو چارواکو د بی تفاوتی له امله  او په خاص ډول په تيرو اتلسو کلونو کې يې په سيستماتيک او شعوری ډول سره د اقليت کولو او له منځه وړلو هڅې شوې او لاهم روانې دي. که چيرې پښتانه مشران او قلموال ورته توجه ونکړي، نو دغه ژبه به په تعليمي او دفتري برخه کې ډير حقوق له لاسه ورکړي .

لکه څنګه چې په بريښنايي تذکرو کې د ملت (افغان) کلمه زموږ د ملي هويت برخه ده او ذکرکول يې اړين دي په همدې ډول بايد هر  چا ته خپله مورنۍ ژبه په درست ډول درج شي، ځکه ملي هويت د څو مختلفو وجوهاتو څخه برخمن دی چې عبارت دي له: ملت، ژبه ، دين ، د پيدا کيدو ځای او ځمکه، تاريخ، ايډيالوژی عنعنات، ارزښتونه او داسې نور...

پښتو ژبه د لرغونی اريائی ژبو څخه يوه خپلواکه ژبه ده چې د  له دويمې هجري پيړۍ څخه را په دېخوا مستند او ليکلی تاريخ لري او په نړيواله توګه ويونکې، ليکونکي او زده کونکي لري. د دغی ژبی ويونکو او په خاص ډول تيرو په نوم پښتنو شاهانو  همدی ژبی سره خورا ستره جفا کړې، دا چې دا ژبه د هيواد د اکثريت اوسيدونکو ژبه وه او ده، بايد د ليک لوست او دربار لومړنۍ ژبه وای، مګر په ډيره خواشينی سره  چې له پامه غورزيدلی او په حاکميت کې محکومه شوی وه او تر يوې اندازې پورې يې وجه دا هم ده چې خلک په ځينو خامو افکارو او تارونو تړلي دي، له تعليم څخه لرې او په داسې چارو اخته دي چې له پوهې، تعليم او تمدن نه ځنډې ته پاتې شوی دي.

نور بيا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ